دمقالی لیکونکی : ګلین ګرینوالد«Glenn Greenwald ».
سرچینه اود خپریدو نیټه :انفارمیشن کلیرنګ هوس (۲-۲۶- ۲۰۱۳ )
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

--------------------------------------------

# ایا د امریکی متحده ایالات په افغانستان کی د شبه نظامیانو دوژنو اوکړولواعمالو څخه به ملاتړ وکړی اوهغه به جاری وساتی ؟

## Is The US Maintaining Death and Torture Militias in Afghanistan?

فبروری ۲۰۱۳-۲۶«انفارمیشن کلیرنګ هوس »- ( ګاردیین ).

همغسی چی ویکی لیکس په کال « ۲۰۱۰» کی په زرګونو طبقبندی شوی سندونه دامریکی ددولت دکړنو په اړین نشر ته وسپارل دامریکی د دولت ملاتړی دغه سند ونوته چند ان پاملرنه ونکړل اوپه ډیر بی پروایی سره داسی ادعا وکړل چی دا کوم یو نوی موضوع یا پیښه نه دي ، مګربیاهم دپاملرنی وړ موضوع دا دي چي ددغه رد کړل شوي سندوند نو په مینځ کی «۲۴۲» ګڼه فراګو(سمد ستی اوناڅاپی نظامی امر) کی د ایتلاف ځواکونو ته داسی هدایت اوامرورکړ شوی دي چي د شبهه نظامیانو وژنه اوکړونو،نه داچي ودروی بلکه هغوی ته داسی دستورورکړشوی وه چی دوژنی –کړونی او دجګړی دنوروجنګی جنایاتو په اړین کوم چي دروزل شوی عراقی قوتونو په واسطه سره هم ترسره کیږي له هرډول ارزونی او تبصری څخه ډډه وکړی او نوموړی پیښی ته چندان پاملرنه ونکړی اویوه عادی پیښه وګڼی .

بلکه هغوی ته داسی امرورکړل شوی وه چی هرهدایت او امر باید ترسره کړی :نوموړی سپاهیانو په زرگونو ثبت کړل شووي مواردوکی په نښه شوی کوم چی دعراقی روزل شوی قوتونو په واسطه سره دعراق غیرنظامی وگړی په شقاوت اوپه خشونت سره ډبول شوی یا کړول شوی دی ډیر داسی کم ښکاری چی دامریکی د متحده ایالاتودا شغال سرمشریزه ددی ډبولو اوشکنجه کولواویا دهغه دبندولواویا ددرولو هدایت ورکړی وی(اما کله چی ددغه شکنجی اود ربړولو په اړین دویکی لکس په واسطه سره سند نشرته ورسید-گاردین دنوموړی سند ځنی څرگند او انکار نه منونکی ټکی یی نشرته وسپارل ). لکه هغسی چی په هغه وخت کی ددی سند اویا اسنا دو دمحتو یا تو په اړین« اتلانتیک مرک امبند ر »(Atlantic Marc Ambinder)داسی لیکی : ددی سند په راپوراوگذارشا تو کی داسی ډیر له شرمه ډ ک اوډ یرناوړی پیښی ترسترگوکیږی او هغه داچی عراقی بندیان دعراق دسرتیرو اود امنیتی قوتونو پواسطه سره ترناوړی استفادی لاندی ولویدلی اویا پرهغوباندی تیری اوتجاوز شوی او هغه هم دایتلاف دقوتونو ترسترگو لاندی هغه ایتلاف کوم چی د امریکی د متحده ایالاتو تررهبری لاندی دی . او امریکایی لوړ پوړی اشغالگر چارواکی نه یواخی داچی دغه ناوړی کړنی څخه مخنیوی نه ده کړی بلکه هغه ته هیڅ پام نه دی اړولی (اودمعمول په څیر دی ته پام نه دی اړولی چی ددغه اسنا دوتنظیمول دامریکی دملی امنیت په گټه نه دی او هغه ته تا وان رسوی بلکه اوس دامریکی په دننه کی ځنی دولتی لوړ پوړی چارواکی په دی سلا او مشوری شوی دی چی څرنگه کولای شی ددغه له شرمه ډک کړونو دلا زیات

رسوایی څخه مخنیوی وکړی : نو دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره دپیبنی پوهید نه ستوزمن نه ښکا ری چی ولی د امریکی د متحده ایالاتو دولت په ډیر یرغلیز بڼی سره په دی لټه کی دی چي بردلی میننګ«Bradley Manning» ،ویکی لکس اوډیر نور خبری سرچینی او ورځپانی لیکونکو ته کوم چی ددی شرم اور کړونوراز رسوا کړی هغو ته سخته جزا ورکړی ) .

په افغانستا ن کی د یکشنبی په ورځ «جمهورریس حامد کرزی»پرامریکی باندی ګوت څنډ نه اونیوکی وکړ اوپه ښکاره بڼی سره وویل چی امریکایی مسولین دلته په افغانستان کی ځنی ډیر ناوړی اوکرغیړن کړنی تر سره کوی او هغه داچی : دوی نه داچی دخپل تربیه کړل شوی اوروزل شوی قوتونو اعما لو او دهغو په واسطه سره دخلکو شکنجه کولو او دوژلو ننداری کوی بلکه دهغو دکړنو سره په سیستماتیک بني سره شراکت هم کوی دا هغه څه دی چی د ګاردیین دخبرجوړونکی «ګلنار موتیوالی» له خوا راپور راکړ شوی دی .

« دافغانستان دولت د امریکی د متحده ایالاتو ځا نګړی مسول جزوتام ته وروسته له هغه چی دهغه ولایت د محلی مسولینو له خوا داسی راپورترلاسه شو چی دامریکی دځانګړی قوتونو دیو جزتام لاس دمیدان وردک دخلکو په ربړولو او د ملکی خلکو په تری تم کیدو کی ښکیل دی هدایت ورکړچي هرڅومره زر باید دمیدان وردک له نارام اوناقرار ولایت څخه پښی سپکی کړی .

د میدان وردک دولایت دوالی اودهغه د مسولو مقاماتو له خوا د امریکی دقوتونو پرضد دهغه ولایت دملی امنیت په غونډه کی یوشمیرانکار نه منونکی شواهد وړاندی کړل شو او کله چی

نوموړی شواهد دافغانستان مرکزیعنی کابل ته ورسید دافغانستان د جمهوری مانی د مسول او لوړ پوړی مقام له خوا د نوموړی موضوع په اړین یورسمی اعلامیه خپور شو چي دهغه متن په دی ډول دی : وروسته له ډیرژوراوهراړخیز څیړنوڅخه داسي بربنډ اوڅرګند شول چي د امریکی د متحده ایالاتو په افغانستان کی د میشتومسلحوځانګړی قوتونومسولو چارواکو دمیدان وردک دخلکو په ربړولو ،ازارورکولواوحتی دبی ګناهو خلکو په وژلو کی لاس ښکیل دی .

« دبیلګی په ښه په یوه تازه را رسیدلی خبرکی داسی راپور تر لاسه شوی چي په یوه پیښه کی چي په اغلب ګمان سره دهغه عملیاتوپه نتیجه کی چي د همدی امریکایی ځانګړی قوتونوپه واسطه سره ترسره شوی د میدان وردک څخه (۹) ملکی خلک بیخی تری تم شوی اوهمدارنګه په همدغه ولایت کی په یو بله پیښه کی داسی خبر ترلاسه شوی چی د شپی له خوا یوه زده کونکی دهغه له کورڅخه راایستل شوی اوبیاپه قتل رسید لی چی ددوو ورځو په تیریدو سره دهغه مړی چي بدن یی شکنجه شوی اودهغه ستونی پریکړشوی وه دیو پل ترلاندی را پیدا شوی دی اوهم په دی رسمی بیانیه کی داسی اضا فه شوی ...اوهغه داچی دکرزی ددفتر ویاند «ایمل فیضی» داسی وویل : چی ددولت له خوا دغه پریکړی وروسته د څومیا شتو د پرله پسی را رسید لی اطلاعا تو پربنیا د کوم چی په وردک ولایت کی خلک دهمدی ځانګړی قوتونو پواسطه سره ځورول شوی نیول شوی دی .

« دوردک دولایت خلکو دامریکایی ددغه ځانګړی میشته قوتونو دلاسه څخه داسی شکایت لری چی ددی ځانګړی قوتونویوه

جزتام«یونټ» ددغه ولایت دخلکوپه ربړولو،ازاروركو ، وژلو اود خلکو په تری تم کولو کی پوره لاس لری او هغه داچی په دی وروستیوکی دوردک (۹) نفر د همدی قوتونو پواسطه سره دهغوله کورونو څځه راایستل شوی اوترتم شوی دی اولاتراوسه څوک نه پوهیږی چي هغوی چیری دي. دا هغه څه دی چی ایمل فیضی څرګندوی.

د یکشنبی له ورځی څخه راهیسی د دی پیښی په اړین د نیویارک ټایم دیو مفسر (ماتیو روزنبیګ ) له خوا دوه مفصل مقالی لیکل شوی دي هغه د دوشنبی په ورځ دا سی یا دونه وکړ :چی دکرزی ددفترویاند په څرګند بڼی سره وویل چی د فبروری په د یا رلسم نیټه کی امریکا یی سر تیری اوافغانی کارکونکی سره په ګډه پریو کلی باند ی د شپی له خوا یر غل ور وړلی اویو دوترنری زده کونکی یی رانیولی او د ځان سره یی بیولی اووروسته ددری ورځو په تیریدو سره دهغه مړی په بوه ساحه کی دیو پل ترلاندی را پیدا شوی کوم چی دهغه بدن پوره شکنجه شوی را ښکاریده یعنی هغه دشکنجی په ورکولو سره په فتل رسیدلی وه«دادنوموړی ویونکی څرګندونه وه چی مو پورته ذکر کړ.» د یادونی یو وړخبر داد دی چی روزنبرګ نن سبایی داسی یادونه وکړچی د نوموړی په قتل رسید لی زده کونکی سر دهغه له تنی څخه هم پریکړ شوی وه .

ګلوند موتیوالی یا دونه کوی چی دامریکی دمتحده ایالاتو په افغانستا ن کی میشته نظامی لوړپوړی د افغانستان د دولت اود وردګو دولایت د مسولومقاما تو ادعا پر خپل ځا ن یو تهمت ګڼی اونوموړی ادعا ردوی ـروزنبرګ زیا توی چی د امریکی

دمتحده ایالاتونظامی چا رواکی په ډیروارخطایی ( ترهونه ) او سردرګمی سره دنوموړی ادعا په هکله داسی اظهار نظر کوی : « دغه ناوړی کړنه او غلط ګټی اخیستنه دهغو افغانا نو پواسطه سره ترسره کیږی کوم چی زمونږ د نظا می نخبګانوسره ګډ کارکوی»اما دافغانستان ځنی رسمی مقامات په دی باوردی چی هغه مشکوک کسان کوم چی په دی ناوړو کړنو کی لاس لری هغه کسان دی چی د امریکایانو سره کارکوی او د نخبګا نو د قوتونویوه برخه تشکیلوی او امریکایی مقامات نشی کولای چی هغوی د اسرارو له فا ش کولو څخه منع کړی یا په بل عبارت هغوی راز او اسرار پټ نه ساتی . دبلی خوا څخه د نا تو ویاند دموضوع په اړه داسی اظهار نظر کوی اوهغه داچي پرافغانی قوتونو باندی داسی ادعا کول کوم چی هغوی په تیرو وختونوکی ډیر ناوړی اوناروااکارونو ترسره کړی اویاجنا یا ت ترسره کړی وی مشکل بریښی چی پرهغوباندی داسی تهمت ولګول شی .

په ډاګه بایدوویل شی چي د لته د کوم سوال خبره په مینځ کی نشته لکه هغسی چی په دی مورد کی روزنبرګ یا دونه کوی اوهغه داچي د دی روا نی جګړی په ټول بهیر او موده کی دامریکی دمتحده ایالاتو نظامیا ن اودامر یکی د (سی آی ای ) دسا زمان په مرسته سره دافغانستان ددولت له کنترول څخه وتلی اوپټ یو شمیر شبهه نظامیا ن د ځانګړی عملیاتونودسرته رسولو دپاره روزل شوی کوم چی دهغوی لا یوشمیر تراوسه دامریکایانوتر هدایت لاندی عملیاتونه تر سره کوی اودغه شبهه نظامیان د حامد کرزي ورور د مخدره موادوپه تجارت او قاچاق سره مشکوک «احمد» نومی سړی کوم چی دغه شبهه نظامیان

امریکا یا نو ته معرفی کول او دهمدی مرستی په بد ل کی له امریکی چارواکو څخه پیسی تر لاسه کول اودغه شبهه نظامی روزل شوی ډ لی ټپلی لا تراوسه دامریکایانوترمستقیم لاربښونو سره دقندهار دښار په سهیلی برخو کی پټ پټ عملیاتونه تر سره کوی دوی دامریکایانو تر کنترول لاندی شبهه نظامیان کوم چی دافغانستان ددولت له کنترول اوله سترګو څخه پناه او پټ روزل شوی ددی مقصد دپاره دی چی کله امریکایانو له افغانستان څخه ووځی دوی دهغو یعنی دا مریکا یا نو په غیا ب کی دهغوی په استازیتوب اودهغوی په ګټه پټ عملیاتونه تر سره کړی.

لکه هغسی چی مو پورته یا د ونه وکړ، اوس دغه موضوع ممکن دي چي په ښه شان سره ښکاره اوبربنډ شی او هغه داچي په افغانستان کی امریکایی میشته نطامی چارواکی ددی موضوع په اړین باید ریښتیا ووایی یعنی هغه وخت رارسیدلی چي هغوی باید خپل سترګی پټی نکړی اوریښتیا ووایی،لکه چي دوی اوس مجبورشوی او داسی اد عا کوی چی مونږ د دغه مشکوکوپټو واحدونو ( شبهه نظامیانو ) سره څه اړیکی نه لرو یا هغوی سره نه یاستو اوپرمونږ پوری تړلی نه دی – نوددی څرګندونو څخه داسی پایلی ترلاسه کیږی چی د افغانانو نارضایتی په بشپړه بڼی سره ریښتیا او دقیق دی لکه هغسی چی روزنبرګ دنوموړی موضوع په اړین داسی څرګندونه کوی :

« یوه امکانیت کوم چی ممکن دموضوع دڅرګندونی او توضیح سره مطابقت ولری هغه به یرغلګروته دا فغان دمحلی چارواکو هدایت اودستور وی اودا ځکه چی امریکایی نظامی چارواکی دخپل نه ګډون دلیل وړاندی کوی ، نو ددی څخه داسی را

معلومیږی چي شاید دغه مشکوک ډلی ټپلی د امریکی د متحده ایالاتو د مرکزی اطلاعاتی آژانس تر لار ښونو لاندی وی حال داچی د نوموړی سازمان (CIA) یوه چارواکی ددی موضوع د توضیح ورکونو څخه ډډه وکړ.

د نوموړی موضوع په اړین یو افغانی لوړپوړی مقام داسی وویل :یوه امکانیت دادی چی دامریکی دمتحده ایالاتو د ځانګړی نظامی قوتونو ترمینځ له دی نه چی ټول یورنګ نظامی کالی – ډنداره پلنی ټوپکونه او یورنګ د مخ ویښتان لری ګران دی چی فرق اوتمیزو شی .

اما د روزنبرګ په قول سره ددی ځانګړی نظامی قوتونو د پیژندنی یواځنی تفریقه علامه دهغو یو ډول «تکتیکی تهاجم اویرغل وړل دي » چی د هغو دیرغل پایله دهغود ناسم چلند او ناوړی ګټه پورته کول (Abuses)دی او بیازیار باسی چی دخپلو ناوړو چلند او کړنو باندی برغولی کیږدی لکه چي اوس په همدی اوسنی خپل کړنی باندي غواړی برغولی کیږدی او داسی ادعا کوی چی دغه عمل اوکړنه مونږ ه نه دی کړی او له هغه څخه انکار کوی .

ددغه موضوع دلا روښانه کیدو په اړین دبیلګی په بڼه کولی شو یو مثال راوړو: اوهغه داچي ما په کال (۲۰۱۰) کی د امریکی دمتحده ایالاتو دځانګړی قوتونو دهغه کړني په اړین چي د پکتیا په ولایت کي ترسره کړی وه په همغه وخت کی می په یوه کذارش کی لیکلی وه اوهغه داچی دغه امریکا یی ځانګړی قوتونه په یو کلی کی پر یو کور باندی چی هلته د یوماشوم دزیږ

ورځ میله اوجشن نیول شوی وه یرغل ویوړل شواوهغه کوریی محاصره کړپه دی وخت کی دوه سړی« اغلبأ دولتی مامورین » په ډیر هیجانی بڼی سره دد ی امریکا یی ځانګړی قوتونو څخه وغوښتل چي تاسی ولی زمونږ کور محاصره کړی ، نوموړی قوتونه پر هغو باند ی د مرمیو ضربه کوی او هغوی له مینځه وړی اوپه عین وخت کی دهغو سره اړین دری ښځه(یوه حامله داره ښځه لرونکی دلس اویوه بله امیدواره ښځه لرونکی دشپږ اولاد اویوه ځوانه پیغله ) هم دمرمیو په ګذار سره دمینځه وړی اوپه قتل رسوی ، اوپه دی وخت کی کله چی دکلی خلکو په لوړ آوازسره ددی موضوع په اړین خبل داعتراض غږ پورته کوی ، پنتاګون ددی پیښی په اړین په یوډول جعل او دروغ و یلو باندی غواړی پیښي ته بل رنګ او څیره ورکړی او هغه دا چی دغه قتل زمونږ د ځا نګړی قوتونو پواسطه سره نه دی تر سره شوی بلکه دا د ننګ اونا موس خبره دی چی طا لبانو دغه ښځی د شرعیت دقوانینو په نظرکی نیول سره په قتل رسولی دی . اما کله چی ځلک دی کورته ننوزی اوهغه ښځینه مړی دکورپه دننه کی ګوری چی خوله یی تړلی او په قتل رسیدلی دی ، دا همغه کور دی کوم چی دامریکایی دځانګړی قوتونو په واسطه سره مخکی محاصره شوی وه ، اوپه هیڅ بڼی سره دغه وژنه په اصطلاح سره ناموسی وژنه نه وه کوم چی په دروغوسره دطالبانو پر غاړه اچول شوی وه ، نوپه دی وجهه د (CNN) په قول سره د امریکی خبری منابع اوپنتا ګون مجبورشو چی دنوموړو قتلونو مسولیت پخپل غاړه واخلی اوداسی په ډاګه شو چی نوموړی وژنه د همدی امریکایی ځانګړی قوتونو په واسطه

سره ترسره شوی اوبیا ددی دپاره چي ځان له دی مسولیته ځخه وژغوری په دروغ او کذب سره دپلمی په لټه کی شوی او په جعل باندی سره لاس پوری کړی دی .

په هر صورت باید په ډاګه شی چی وروستی پیښه په حقیقت کی دبشر پرضد یو ناوړی اوناروا کړنه دی کوم چی په هیڅ بڼی سره پټ ونه ساتل شو اودافغانستان په هر ګوټ کی خلکو په دی باندی و پوهیدل چی د دی کړنی مسول امریکایان دی کوم چی هغوی سړی وژونکی خلک روزلی دی چی د طالبانو ځخه ډیر زیات وحشی و جلادان دی لکه چی روزنبورګ وایی :

نوموړی پیښه په پراخه پیما نی سره نه یواځی په افغانستان بلکه په ټول نړی کی خپور شول او نړیوالو هم خپل کرکه ددی پیښی عامیلینو ته ښکاره کړل،افغان جمهورریس حامد «کرزی» په یو خبری ناسته کی وویل چی دایتلاف قوتونه خپل مسولیتونه د طالبا نوسره په شریکه پرمخ وړی او داسی له خشونته ډک کړنونو ته دوام ورکوی چی دهغه په نتیجه کی هیواد ته ورانی را پیښوی .........

افغانی رسمی منابع یو ځل بیا په ډاګه کړ چی دغه د حکومت له سترګو ځخه پناه روزل شوی ډلی ټپلی داسی نورزیا ت ناروا وکرغیړنی اعمال ترسره کړی چی دهغو دویلو ځخه د ا نسان دبد ن ویښتان را جګیږ.ی ،دافغانستان عامه خلک دطالبانو اوددی ناوړو د امریکی دځانګړي قوتونو پواسطه سره روزل شوی ډلی ټبلی کړنی او اعمال سره هیڅ تفاوت نه لری بلکه ددغه روزل شوی ډلی ټپلی کړنه د طالبانو ځخه هم بد اوبدتر دي .

نو د پورتنیوحقایقو په نظر کی نیولو سره دامریکی متحده ایالات

په دی تیر دولس کالو جګړه کی چی دامریکی دتهاجمی جګړو په تاریخ کی یوله ډیر اوږد جګړی څخه یادیږی ، امریکا یان دافغانستان دخلکو په وړاندی په مساوی بڼی سره کوم چی طالبان لری مسول دی او اوس دا بلکل بربنډ شوی چی ددی روزل شوی ناروا او انسان وژنکی ډلی ټپلی تر شا امریکایان ولاړ دی اوهغوی ته پوره ما لی مرسته کوی اوس بلکل د امریکی دانسان دوستی ددغه لاس وهنی تریخ میوه اوثمر اوچته شو چی دا نه یواخی انسان دوستی نه دی بلکه دا د دموکراسی اود بشر دحقونو دپلی کولو په لاره کی تیګی غورځول دی او امریکایانو ته باید ښکاره شی چی اوس نړ یوال ستا سو په ټول چلونه او ناسم چلند باندی پوه شوی دی اولری نه دی چی دامریکی خلک پر حقیقت باندی پوه نشي .

په ډیر درناوی